
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې دویمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۳مه | ۵۹۹یمه ګڼه


## کتاب


۴ مخ

### د نړیوالو کیسو کیسې




په ټوله کې مو دا کتاب د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو له داستان سره اشنا کوي، تاسې ته ښیي چې هغوی په ژوند کې کوم اړخونه مهم نیولي او له کومو هغو یې متنفر دي.

## د چین د ۷۱ میلیونو ډالرو په مالي لګښت په کابل کې د ښارګوټي د جوړېدو چارې پیلېږي



د ښار جوړولو او ځمکو چارو وزارت وایي، د چین د ۷۱ میلیون ډالرو په مالي لګښت د کابل ښار د دارلامان په سیمه کې د یوه ښارګوټي د لومړي فاز د جوړېدو چارې به ډېر ژر پیل شي.

د یاد وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د دې ښارګوټي د لومړي فاز تړون د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او د ۱۹MCC پلي کوونکې شرکت ترمنځ په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د ولسمشر پر وړاندې لاسلیک شو.

په خبرپاڼه کې راغلي: «د چین هېواد په مالي مرسته د یاد ښارګوټي د لومړي فاز د چارو پیلېدل د دواړو هېوادونو له ګډو او مهمو پروژو څخه دي چې چارې یې په کابل ښار کې پیلېږي.»

سرچینه زیاتوي، ټاکل شوې چې د دغه ښارګوټي د لومړي فاز بنسټیزې او ودانیزې چارې په راتلونکو ۴۰ میاشتو کې بشپړې او ګټه اخیستنې ته وسپارل شي.

# سړه سوله او خونړۍ جګړه؛

## په افغانستان کې روان تاوتریخوالي او ملکي مرګ ژوبلې اندېښنې پارولې دي


۳

د سولې د تخریب منظمې هڅې
۲ مخ

له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه
۲ مخ

د چین د اقتصادي مزل تر ټولو ښه پاڼه په غوړېدو ده
۳ مخ

## نشنل انټرسټ: پر طالبانو د پاکستان نفوذ د پام وړ کم شوی دی

د نشنل انټرسټ په نامه یوې خپرونې د پاکستان او طالبانو وروستیو اړیکو ته کتنه کړې ده. د یادې خپرونې له لوري په یوه اوږده تحلیل کې راغلي، طالبان اوس پوه شوي چې د پاکستان د ملاتړ دوام یې په افغانستان کې دننه د خلکو ترمنځ اعتبار زیانمنوي، نو له همدې امله اوس پر پاکستان ډېره تکیه نه کوي. د سرچینې په خبره، په نړیواله کچه د طالبانو سیاسي اعتبار پاکستان وارخطا کړی دی، ځکه پاکستان درک کړې چې طالبان له دې وروسته د افغان سولې کیلي د پاکستان په لاس کې نه بولي. په ورته وخت کې د طالبانو په تنظیم کې وروستي بدلونونه د دې ښکارندويي کوي چې یاده ډله هڅه کوي په سیاسي کچه خپل مشروعیت نور هم پراخ کړي. د تحلیل په یوه برخه کې راغلي، پاکستان غواړي طالبان تر خپل نفوذ لاندې د افغانستان د اوسني نظام برخه وګرځوي، ځکه دا هېواد له دې په وېره کې دی چې که طالبان بیا واک ته ورسېږي، نو نه یوازې دا چې په پاکستان کې به د جهادي ډلو ملاتړ خپل کړي، بلکې په دیوبندي مدرسو کې به هم د افراطیت نوې څپې پیل شي. د تحلیل په وروستۍ برخه کې راغلي، د طالبانو د نظامي مسوول په توګه د ملا عمر د زوی ملا یعقوب ټاکل کېدل هم دا ثابتوي چې پر یاده ډله د پاکستان نفوذ کم شوی دی. لیکوال کاږي، د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې لاسلیکېدو طالبانو ته په پراخه کچه سیاسي اعتبار ورکړ او دا یې وښوده چې د طالبانو او پاکستان اړیکې د ورورولۍ پر اساس نه، بلکې د ګټو پر بنسټ وې.

## که د افغان سولې پروسه ناکامه شي، نو افغانستان او نړۍ به له ګواښونو سره مخ شي




۲ مخ

## کوریای جنوبی در بخش های صحت، تعلیم و حفاظت اطفال با افغانستان دو میلیون دالر مساعدت نموده است



کوریای جنوبی دو میلیون دالر امریکایی که در بخش های صحت، تغذیه، تعلیم، آب، دفع فاضلاب و بهداشت و حفاظت اطفال به مصرف می رسید با یونیسف مساعدت نموده است.

در خبرنامه اداره یونیسف آمده است که دولت جمهوری کوریا جنوبی مبلغ دو میلیون دالر امریکایی را به شکل کمک های بشردوستانه در بخش های صحت، تغذی، تعلیم و تربیه، آب، دفع فاضلاب و بهداشت (WASH) و حفاظت اطفال از طریق دو پروژه جداگانه که در چهار ولایت افغانستان (دایکندی، هرات، بلخ، ننگرهار) تطبیق خواهند شد، به یونیسف مساعدت نموده است.

منبع می نویسد: «از اقدامات مذکور که دوازده ماه را در بر خواهند گرفت، بیش از ۳۰۰۰۰ دختر، پسر، زن و مرد مستفید گردیده و دسترسی شان را به خدمات اساسی افزایش خواهد داد و در نتیجه مساعدت کوریا، یونیسف قادر خواهد شد تا نزدیک به ۱۹۰۰۰ تن در محلات صعب العبور ولایت دایکندی کمک فراهم نماید.»

داکتر ابوبکر کامپو، نماینده یونیسف در افغانستان می گوید: «یونیسف با داشتن تخصص در سکتور های متعدد برای حمایت دولت و همکاران در عرضه خدمات جامع به مردم از یک موقعیت برتر برخوردار است و سالهاست که این خدمات را عرضه مینماید، اقدامات مذکور با عرضه خدمات متعدد و مختلف در عین محل اثر فزاینده داشته و در مقایسه با نتایج یک سکتور، تأثیر بیشتری خواهند داشت.»


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، ددهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

# د سولې د تخریب منظمې هڅې

په دوحه کې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د دواړو اړخونو تر منځ پر اصولو او کړنلاره لا هم بحثونه روان دي. دواړه اړخونه په دې برخه کې د پرمختګ خبر ورکوي او تمه ده چې ژر به پر دې چاره توافق وشي او بیا به پر اجنډا هم توافق کېږي، چې ورسره به بین الافغاني خبرې پیل شي. له دې سره هممهاله منظمې او پرله پسې هڅې کېږي چې رامنځ ته شوی فرصت ضایع شي، فضا جګړهییزه شي او د سولې په تړاو بیا ناهیلي خپره شي.

د سولې له بین الافغاني خبرو سره جګړه ګرمه شوې ده چې په طبیعي ډول دا چاره د سولې مخالف عمل دی، چې پر خبرو منفي اغېز کوي. دا سمه ده چې تر اوسه پورې سوله نه ده شوې او نه هم پر اوربند توافق شوی دی، خو د خبرو له پیل سره که جګړه کمېږي نه، نو په هېڅ ډول باید زیاته نه شي. آن د حسن نیت لپاره باید جګړه نوره هم کمه شي، خو ښکاري چې جګړهخوښي عناصر له دې موقع استفاده کوي او غواړي جګړه زیاته کړي، څو د سولې پر پروسه منفي اغېز وکړي. د دې تر څنګ لا هم ځینې چارواکي جګړهییز ادبیات کاروي، نفرت خپروي او داسې ښیي چې ګواکې سوله ناشوني ده او یا یې هم څرګندونې سولهییزه فضا خرابوي.

د ولسمشر د مرستیالانو او آن خپله د ولسمشر خبرې همداسې یوه هڅه ده چې د سولې پروسه خرابولی شي. په داسې حالاتو کې چې د سولې خبرې روانې دي، دغه ډول ادبیات کارول په هېڅ ډول د سولې په ګټه نه دي، بلکې دا ډول خبرې د جګړې او نفاق سبب کېږي. که څه هم ښکاري چې دا څرګندونې په قصدي او شعوري ډول د سولې د تخریب لپاره کېږي، خو که چارواکي یې قصدي هم نه ګڼي، بیا هم د توجیه وړ نه دي. دا هغه وخت دی چې باید سولهییزه ژبه وکارول شي، له منفي خبرو ډډه وشي او که مثبتې خبرې نشي کېدلی، نو بیا تر منفي خبرو چوپتیا هم غوره ده. طالبان څنګه دي، امارت څنګه دی، جمهوریت څنګه دی...؟ په دې اړه خلک پوهېږي، خپل قضاوت لري او هر څه ویني. په دې اړه د چارواکو خبرې د خلکو نظر نه شي بدلولی، بلکې یوازې فضا خرابولی شي. پر لانجمنو مسایلو بحث، تورونه، د یو بل پر ضد په ټولنیزو رسنیو کې تبلیغات او نورې دا ډول کړنې د سولې د روان بهیر پر زیان دي او پکار ده چې ونه شي.

دواړو اړخونو ته پکار ده چې ولس ته درناوی وکړي، پر ولس رحم وکړي او پرېږدي چې د دې مظلومو خلکو د وینو دا سیلاب بند شي. که دوی رښتیا د خلکو او د دوی د ارزښتونو لپاره مبارزه کوي، نو پکار ده چې د خلکو اصلي غوښتنې ته چې سوله ده، کار وکړي. آن د نظام د ډول په شان په اختلافي مسایلو کې د پرېکړې واک د ټولپوښتنې له لارې ولس ته ورکړي. ولس پوهېږي چې بیا جمهوریت ټاکي، که امارت او یا هم کوم بل نظام. له همدې امله دوی باید خلکو ته د نظام ټاکلو پر ځای، خلکو ته حق ورکړي چې خپله نظام وټاکي. دوی باید همدومره وکړي چې د سولې روانه پروسه تخریب نه کړي او پرېږدي چې بریالۍ شي.

# له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

لیکنه: **بارنټ روبین**
ژباړه: **زمریالی اباسین**

**وروستۍ برخه:**

په پاکستان کې د بدلېدونکو تحرکاتو په اډانه کې، د طالبانو مشرتابه او د امریکا متحده ایالاتو ایران ته نوي فرصتونه په لاس ورکړل، څو د اړوندو ستونزو پر وړاندې عمل وکړي، لکه: مخدره توکي، تروریزم، بهرنۍ ورانکاري او د ایران-پاکستان- افغانستان ګډو پولو ته څېرمه د بلوڅو سیمې. له ملا عمر د ظاهري صلاحیت په تر لاسه کولو سره، منصور ملا برادر د هغه له بندي کېدلو وروسته پر طیب اغا د نظارت کولو مسوولیت پر غاړه واخیست. هغه که څه هم پدې اړه ملا ذاکر یا ملا حسن اخوند ته چې د شورا د مشرتابه غړی و، اطلاع نه وه ورکړې. کله چې په ۲۰۱۱ م کال کې دا موضوع خپره شوه، له ذاکر سره مخالفتونه زیات شول او د ۲۰۱۴ م کال په اپرېل کې یې چې اوج واخیست، پایله یې د ملا ذاکر د مرستیالۍ او د نظامي کمېسیون د مشرۍ اختتام راووت.

موده وروسته، رپوټونه خپاره شول چې ذاکر او منصور د سپاه پاسداران د مېلمنو په توګه ایران کې وخت تېر کړی و. ذاکر په دې لټه کې و چې داسې یوه اډه جوړه چې په لا خپلواک ډول عملیات تر سره کړای شي. هغه همدا راز د پاکستان په پرتله ډېر وخت هلمند کې تېراوه. په ۲۰۱۵ م کال کې پاکستان پر منصور د افغانستان د سولې له عالي شورا سره په پاکستان کې په تر سره کېدونکو خبرو کې د برخه اخیستو لپاره فشارونه زیات کړل. کله چې فشارونه بېخي زیات شول، منصور ځینو طالب مشرانو ته چې د پاکستان له ای اېس ای سره ځانګړې اړیکې یې درلودې، واک ورکړ څو په جولای میاشت کې په مري کې تر سره کېدونکو خبرو کې ګډون وکړي. نورو طالب مشرانو هڅه وکړه څو معلومه کړي چې ملا عمر د دې ګام پورته کولو صلاحیت ورکړی او که نه؛ خو په دې وخت کې خبرونه خپاره شول چې ملا عمر دوه کاله مخکې مړ شوی.

ملا منصور چې وار له مخه یې د ملا عمر د ځایناستي په توګه چارې پر مخ وړلې، هڅه وکړه چې دا مذاکرات په رسمي ډول پیل شي، خو د مشرتابه په تړاو هلو ځلو څو میاشتې وخت ونیو او پر دې سربېره د ملا عمر د کورنۍ مخالفتونه هم پکې ښکېل وو. پاکستان د طالبانو تر منځ په دې انشعابونو کې د خپلې خوښې وړ انتخاب، سراج الدین حقاني چې د وفات شوي جهادي قوماندان جلال الدین حقاني زوی و، ځای پر ځای کولو موکه تر لاسه کړه او په دې توګه د مرستیال او د نظامي چارو د مسوول په توګه وګومارل شو. یو له هغو مواردو چې منصور غوښتل له امله یې د زیاتېدونکو فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي، ایران ته د هغه مخه کول و، چېرې چې د ۲۰۱٦ م کال په فبروري، مارچ او له اپرېل تر مې میاشتو د څو اونیو لپاره هلته اوسېدلی و. د همدې کال د مې په ۲۱مه، هغه په داسې حال کې چې له ایراني پولې د بلوچستان له لارې کوچلاک ته، چې کوېټې ته یو نږدې بازار دی، په موټر کې د خپل کور پر لور روان و، له افغانستانه د امریکا د پورته شوې بې پیلوټه پوځي الوتکې په وسیله ووژل شو. کوم چا انټرنېټ کې د هغه د پاسپورټ انځور خپور کړ چې په حیرانوونکې توګه روغ جوړ و او داسې وښودل شوه، چې ګویا پاسپورټ یې د بې پیلوټه الوتکې په وسیله دې په نښه شوي ټکسي موټر له برید وروسته ترلاسه کړی دی. په داسې حال کې چې موټر سخت ویجاړ شوی و. له همدې امله داسې نظریات راڅرګند شول چې د دغه پاسپورټ عکس په اصل کې د پاکستاني چارواکو لخوا د پاکستان له پولې د منصور د اوښتو پر مهال اخیستل شوی و، څو امریکا ته د هغه د تګ راتګ په اړه خبر ورکړي.

زه دقیق نه پوهېږم چې منصور د سپاه پاسداران انقلاب اسلامي له چارواکو سره څو میاشتې پر څه خبرې کړې دي؛ خو داسې نه برېښي چې دا لیده کاته دې د کوم امتیاز لپاره شوي وي. د منصور له وژل کېدو وروسته، ایران له طالبانو سره ښکاره سیاسي اړیکې جوړې کړې. ایران څو ځلې د ایراني پلاوو کوربهتوب کړی چې پکې د طالبانو مرستیال او قطر کې د دې ډلې د سیاسي دفتر مشر ملا برادر سفر هم شامل دی. هماغه ملا برادر چې پاکستان اته کاله زنداني کړی و او د امریکا د غوښتنې پر اساس یې دوحه کې د طالبانو مذاکراتي ټیم د مشرۍ په موخه خوشې کړ.

د ډېرو رپوټونو له مخې، د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې له هغو ټولو موضوعاتو سره په تړاو یوې معاملې ته ورسېدې، چې پورته یې یادونه شوې: په افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو د پوځي حضور پر وړاندې ګډې هڅې، له هلمنده د هیرویینو سوداګرۍ داسې تنظیمونه، چې ګټه یې د سعودي تر ملاتړ لاندې بلوڅ ډلو ته ونه رسېږي، د جندالله په څېر ډلو د ایران د پولو خوندي کولو، د داعش په نوم فعالیت کوونکو پر وړاندې جګړه کې همکاري او هلمند کې د ګډې پولې په اوږدو کې د امریکا د پوځي حضور او استخباراتي عملیاتو په اړه استخباراتي همکاري. هغه سفرونه د ایران د بهرنیو چارو وزارت له شمولیت پرته د سپاه پاسداران لخوا ترتیب شوي وو، چې ښایي لکه زموږ ټولو په شان هغوی هم له هغه وروسته خبر شوي وي، چې منصور ووژل شو؛ خو له هغې وروسته د ایران د بهرنیو چارو وزارت له طالبانو سره ښکاره سیاسي خبرې پیل کړې، چې حداقل تهران کې د ظریف او ملا برادر د کتنې یادونه یې کېدلی شي.

ایراني چارواکو له دغه سفر وروسته له طالبانو سره د خپلو اړیکو په اړه افغان حکومت ته خبر ورکړ. د ۲۰۱۸ م کال په ډسمبر کې د ایران د ملي دفاع عالي شورا سکرتر علي شامخاني کابل ته سفر وکړ، څو افغان حکومت ته معلومات ورکړي. ایران افغان حکومت ته وویل چې له طالبانو سره د دې لپاره د سپکو وسلو مرستې کوي، څو پر ګډه پوله امنیتي ګواښونه دفعه کړي، خو داسې وسلې نه ورکوي چې افغانستان کې سیاسي اوضاع د طالبانو په ګټه بدله کړي. یا په بله مانا، هغه وسلې چې د انسان په وسیله لېږدول کېږي او الوتکې په نښه کولی شي. دغه اندېښنې ټول هغه موارد په ځان کې رانغاړي چې پورته یې یادونه وشوه، که څه هم دا روښانه نه ده چې دوی د مخدره توکو د قاچاق په اړه څه ډول توافق کړی دی.

داسې ښکاري چې له طالبانو سره د ایران اړیکې پر ګډه پوله په اصل کې د هغو قوماندانانو لخوا عیارېږي، چې د منصور د اسحاقزیو په قبیلې پورې تړاو لري، هغه قبیله چې په ژوره توګه د مخدره توکو کاروبار کې ښکېله ده.

داسې رپوټونه شته چې ښیي د ایران «سپاه پاسداران انقلاب اسلامي» عناصر د مخدره توکو کاروبار کې ښکېل دي او ښایي حتی څوک باید د جمهوري اسلامي د مدافعینو د تقوادارۍ له امله هم دوی ته دا امتیاز ورنه کړي، چې ګویا دا ظرفیت لري چې د کراچۍ او مسکو تر منځ یوازینی هېواد تر دې چې هلته امنیتي ځواکونه د میلیاردونو ډالرو قاچاق له امله نه دي مفسد شوي. په لا بنستېز ډول، که څه هم ایران لکه د امریکا په څېر ادعا کوي، چې ګویا په بشپړه توګه د مخدره توکو د سوداګرۍ مخالف دی او داسې ښیي چې ګنې پر ضد یې اقدامات کوي، په هېڅ صورت د مخدره توکو ضد سیاست نه دی توانېدلی، چې د مخدره توکو له قاچاقبرو سره هغه مهال چې د ملي امنیت د اړتیا په حیث تعبیر شوي وي، د استخباراتي او پوځي همکاریو مخه ونیسي.

د ایران د ملي امنیت د عالي شورا منشي علي شامخاني یوه داسې مشخصه پېښه روښانه کړه، چې له امله یې افغان-ایران اړیکې ترینګلې شوې. د ۲۰۱۸ م کال په مې کې طالبانو یو برید وکړ، چې تقریباً د فراه ښار یې ونیو، چې په همدې نوم د ۵۰۰ زره نفوس درلودونکي ولایت مرکز او له ایران سره پر پوله پروت ولایت دی. افغان چارواکو پر ایران پړه واچوله او وې ویل چې دغه هېواد په مستقیم ډول د طالبانو وسله وال او مالي ملاتړ کوي. فراه کې د افغانستان د سرحدي پولیسو قوماندان وویل چې: «د سپاه پاسداران قوماندانان د دې جګړې رهبري کوي.»

د ۲۰۱۹ م کال په جنوري کې کابل ته د یو سفر پر مهال، افغان چارواکو راته وویل چې شامخاني د ایران لاس لرل رد نه کړل، خو نوموړي د دې ترڅنګ د هغه څه له امله د ایران اندېښنه وښوده، چې په فراه ولایت کې یې د امریکا د استخباراتي اژانسونو حضور او ایران کې د ښار او عملیاتو تر سره کول بولي. هغه په ضمني توګه وویل چې هدف یې همدا و. افغان حکومت هسې په منځ کې واقع شوی.


د متقابلو دسیسو دغه غولوونکي ذهنیت د ایران څرګندونو کې د محتویاتو موندلو ته زمینه برابره کړې ده، چې په پوره پاملرنې سره غواړي دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرو په ترڅ کې د اهمیت او بې پامۍ تر منځ ناملموسه نرۍ کرښه تعقیبوي. دې ته په کتو چې اوسمهال د ایران پر ضد د امریکا مستقیم ګواښ دفع شوی دی، تهران له ټولو کمپونو سره د خپلو ارتباطي چینلونو په درلودو سره د هر ډول احتمالي تحول او بدلون رامنځ ته کېدو په صورت کې چې له ختیځو ګاونډیو سره یې اړیکې ترینګلې کولی شي، د عمل کولو ازادي خوندي ساتلې ده.

**پای**

# مک ماسټر: که د افغان سولې پروسه ناکامه شي، نو افغانستان او نړۍ به له ګواښونو سره مخ شي

د امریکا د ملي امنیت پخواني سلاکار مک ماسټر ویلي، که د افغان سولې پروسه ناکامه شي، نو افغانستان او نړۍ به له ګواښونو سره مخ شي. نوموړي دغه څرګندونې له امریکایي ورځپاڼې (یو اېس ای ټو ډې) سره په ځانګړې مرکه کې کړې او ویلي یې دي چې د ولسمشر ټرمپ د تېروتنو او ناسمو پرېکړو له امله به په امریکا کې یو ځل بیا د ډسمبر د ۱۱ مې په څېر پېښه تکرار شي.

هغه زیاته کړې چې ټرمپ به افغانستان، نړۍ او په ځانګړې توګه امریکا له ستر ګواښ سره مخ کړي دي. د نوموړي په وینا، ټرمپ له افغانستانه د سرتېرو په ایستلو او د سولې پروسې په پیلولو سره لویه تېروتنه وکړه.




د امریکا د ملي امنیت پخواني سلاکار دغه راز ویلي، د ډېر فشار د نه موجودیت له امله به د سولې پروسه بریا ته ونه رسېږي چې دا مسئله به نه یوازې افغانستان، بلکې سیمې او نړۍ ته هم زیات ګواښونه پېښ کړي.

مک ماسټر زیاته کړې: «موږ داسې اسانتیا برابره کړه چې طالبان وکړای شي د سولې ملګري شي، خو په حقیقت کې طالبان اسلامي دولت غواړي او دا اسلامي دولت د خپل نفوذ لپاره د یوه بنسټ په توګه کاروي.»

هغه همدا راز څرګنده کړې چې امریکا باید له یوې دایمي ژمنې سره د افغانستان حکومت او افغان ځواکونو نه ملاتړ وکړي. دا په داسې حال کې ده چې مک ماسټر له دې وړاندې هم ویلي وو چې ټرمپ د طالبانو خوا نیولې ده او افغان حکومت یې پرېیښی دی. هغه نږدې یو کال د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار و او بیا له ټرمپ سره د اختلاف له کبله له دندې ګوښه شو.

د مک ماسټر دغه څرګندونې داسې مهال دي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ روان کال په دوحه کې د سولې په نوم تړون لاسلیک شو چې له مخې به یې تر راتلونکي ۲۰۲۱ ز کال پورې ټول امریکایي او بهرني پوځیان له افغانستان څخه وځي.



# د چین د اقتصادي مزل تر ټولو ښه پانګه په غوړېدو ده

لیکنه: غاټول
د چین مډیاګروپ د پښتو څانګې خبریاله

د چین د شمېرنې دولتي اداري په دې وروستیو ورځو کې یوه شمېرنه خپره کړه، چې له مخې یې په همدې میاشت کې د مصرفي توکو د خرڅلاو عمومي ارزښت ۳۳۵۷ میلیارده او سل میلیونه یوانو ته رسېدلی، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله په سلو کې صفر اعشاریه پنځه زیات شوی دی. د مصرف په زیاتوالي سره د چین اقتصاد په دریو عمده برخو کې پرمختګونه کړي دي. له دې څخه ښکاري چې د چین اقتصاد په هر اړخیزه توګه بیا سمسور شوی او ښه راتلونکی یې اټکل کېدای شي.

د امریکا د سي ان ان (CNN) ټلوېزیوني شبکې په دې وروستیو ورځو کې په راپورتاژ کې ویل، چې د کووید- ۱۹ وبا له امله نړیوال اقتصاد له ډېرو ستونزو سره مخ دی، خو د چین اقتصاد د دې وبا پر وړاندې په مسلسلو څو میاشتو کې د بیا سمسورتیا په حال کې ساتل شوی او اوس مشتریان هم غواړي چې د شیانو اخیستلو لپاره پیسې ولګوي.

د مصرفي اړتیاوو په اعاده کېدو سره چین د لا زیاتو بهرنیو نړیوالو تصدیو لپاره یو خوندي ځای ګرځېدلی. د امریکا د وارسټریټ ورځپاڼې ویبپاڼې په دې وروستیو ورځو کې د یوې مقالې په لیکلو سره دې ته اشاره کړې، چې په چین کې د مصرف د اعاده کېدو له امله د ځینو امریکایي شرکتونو زیانونه کم شوي، چې د تولیداتو د پلورنې ارزښت یې د امریکا په دننه کې کم شوی دی. چین د ډېرو امریکایي شرکتونو لپاره سرپناه بلل کیږي. د دې هېواد ځینو مشهورو شرکتونو په ځانګړې توګه په خپلو مالي راپورونو کې ویل، چې دوی د چین په مټ له ستونزو ډکې درې میاشتې تېرې کړې دي. د امریکا سپورتي مارک لرونکی شرکت سکیچیر(Skechers) یو له دې شرکتونو څخه دی. په دویمه ربعه کې د دې شرکت د پلورنې عمومي ارزښت د تېر کال د همدې مودې په پرتله په سلو کې دوه ثلوېښت کم شوی، خو په چیني بازار کې دغه ارزښت په سلو کې یوولس اعشاریه پنځه زیات شوی دی. د دې شرکت د لوړې کچې اداري مشر داوید ومبروګ ویل، چې چین زمونږ د شرکت لپاره یو سمسور، ثابت او پرمختیایي موډل برابر کړی دی.

د سکیچیر په شان ډېرو بهرنیو تصدیو په چین کې د لاسته راوړنو د تر لاسه کولو تر څنګ، د چین په بازار کې خپله پانګه زیاته کړې ده. د روان کال په اګست کې د چین لخوا د کارول شویو بهرنیو پانګو اندازه ۸۴ میلیارده او ۱۳۰ میلیونه یوانو ته رسیدلې، چې دغه رقم د تېر کال د همدې مودې په پرتله په سلو کې اتلس اعشاریه اووه زیات شوی دی. په چین کې زیاتره تصدۍ د چیني بازار پر پرمختګ باور لري. که څه هم د کووید- ۱۹ وبا له امله د نړیوال اقتصاد د بې ثباتۍ عوامل زیات شوي، خو په دې حال کې د( Schneider) شرکت لاهم په چین کې پانګه زیاته کړې، چې څېړنیزه پانګه یې د تېر کال په پرتله په سلو کې ۱۵ زیاته شوې ده. دغه راز د برېټانیا د فننشل ټایمز (FINANCIAL TIMES ) خبر ور کړ چې د(Louis Vuitton) لوړې کچې اداري مشر ویل، په راتلونکو پنځو کلونو کې به د دې شرکت ډېرې چارې پیل شي.

نه یوازې بهرنۍ تصدۍ پر چین پوره باور لري؛ بلکې ډېر نړیوال سازمانونه او ارګانونه د چین د اقتصاد په اړه خوشبین دي او د چین د اقتصاد د ښه کېدو په اړه یې باور زیات شوی. د رویټرز خبري اژانس هم خبر ورکړ چې د روان کال په دویمه ربعه کې د چین د اقتصاد بیا سمسورتیا له اټکل څخه وتلې ده، نو د مودې په نوم د پانګونو او خدمتونو شرکت په دې وروستیو ورځو کې په تازه راپور کې د چین د ښه کال د کورنیو تولیداتو د عمومي ارزښت د زیاتېدو وړاندوینه کړې، چې له مخې به یې د چین د اقتصاد د زیاتوالي انډول له یو سلنې تر یو اعشاریه نهه سلنې پورې زیات شي او په راتلونکي کال کې به دغه انډول په سلو کې اووه زیات شي. د برېټانیا د فیننشل ټایمز ورځپاڼې په خپله مقاله کې لیکلي چې د چین د حکومت تر ملاتړ لاندې د چین تولیدي او خدمتي چارې په منظم ډول اعاده شوې دي. د چین د ملي جشن په رارسېدو سره به د دې هېواد په دننه کې سیلانیزې چارې زیاتې شي، چې له امله به یې لازیات کسان پر دندو وګومارل شي او د چین اقتصاد به په پرله پسې ډول پرمختګ وکړي.

د روان کال په لومړۍ نیمایي کې د چین حکومت د کووید- ۱۹ وبا د مخنیوي لپاره اغېزمن تدبیرونه نیولي، چې په پایله کې یې تولیدي چارې په منظمه توګه بیا پیل شوې او د پانګوالو باور پیاوړی شوی دی. نو مونږ باور لرو چې د چین راتلونکی اقتصاد به لا پسې پرمختګ وکړي.

# سره سوله او خونړۍ جګړه؛

## په افغانستان کې روان تاوتریخوالي او ملکي مرګ ژوبلې اندېښنې پارولې دي



د سولې له خبرو سره هممهاله په هېواد کې د تاوتریخوالي اوج جدي اندېښنې پارولې دي. افغان حکومت تازه ویلي چې طالبانو پر افغان ځواکونو په خپلو بریدونو کې ډېروالی راوستی، خو طالبان بیا وایي چې حکومت لوی عملیات پیل کړي او دوی هم اړ دي چې ځواب یې ووایي. له دې سره هممهاله نړیوالو هم له ښکېلو لورو د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کړې او روانې جګړې یې د سولې لپاره خنډ جوړوونکې بللې دي. کورنیو چارو وزارت هم وایي چې طالبانو په وروستیو کې سلګونه بریدونه او نظامي تحرکات ترسره کړي دي.

د روانې میلادي میاشتې په دوولسمه په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوې. د خبرو له پیل سره د نړیوالو او عامو افغانانو هیله دا وه چې په هېواد کې به تاوتریخوالی کم شي او د مذاکراتو په بېخي لومړیو ورځو کې به پر اوربند توافق وشي. د افغان حکومت تللي پلاوي هم ټینګار کاوه چې له طالبانو سره یې په مذاکراتو کې لومړی ټینګار پر اوربند دی او دا د هر افغان غوښتنه ده، خو مذاکرات تر دې دمه له ځنډ او خنډ سره مخ دي، په دوحه کې خبرې سړې، خو په افغانستان کې جګړه خورا ګرمه ده. هوایي بریدونه، مخامخ نښتې، د سړک غاړې ماینونه، چاودنې، مقناطیسي ماینونه او دې ته ورته جګړه ییز تاکتیکونه هغه څه دي چې له امله یې ملکیانو ته درنې مرګ ژوبلې اوښتې دي.

د کورنیو چارو وزارت په خبره، طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې درې نیم زره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې، په داسې حال کې چې په همدې موده کې د وسله والو ډلو له لوري هېڅ بهرني عسکر یا کوم ملکي بهرني تبعه ته زیان نه دی اوښتی. کورنیو چارو وزارت وایي، طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د خپلو بریدونو پر مهال درې زره او ۵۰۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د یاد وزارت ویاند طارق آرین پرون په کابل کې یوې خبري ناستې ته ویلي، طالبانو د روان کال په تېرو ٦ میاشتو کې اووه زره وسله وال بریدونه کړي دي. د هغه په خبره، په همدې موده کې د طالبانو له لوري ځای پر ځای شوي ۱۴۰ ماینونه هم چاودلي چې له امله یې ملکي وګړو ته یاده مرګ ژوبله اوښتې ده.

طالبانو بیا د کورنیو چارو وزارت پر دغه څرګندونو غبرګون ښودلی او وایي تر ټولو ډېره مرګ ژوبله د افغان حکومت په عملیاتو کې عامو افغانانو ته اوړي. د دوی په خبره، حکومت په ګڼو ولایتونو کې چاپېز عملیات پیل کړي دي. طالبان همدارنګه د تاوتریخوالي زیاتېدل د هېواد په نهو ولایتونو کې د افغان ځواکونو په پراخو عملیاتو پورې تړلي بولي، خو ملي دفاع وزارت وایي چې افغان ځواکونه په دفاعي حالت کې دي.

له دې سره جوخت نړیوالو بنسټونو او د افغانستان د سولې په پروسه کې ښکېلو هېوادونو بیا په ځلونو له ښکېلو لورو د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کړې ده. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ورمه ورځ په ټوېټ پیغامونو کې ویلي وو چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي اوسنۍ کچه په هېڅ صورت د منلو نه ده او اندېښنې یې پارولې دي. هغه ویلي وو چې ښکېلې خواوې باید جګړې کمې کړي او یوه دایمي اوربند ته لار هواره کړي، څو دلته روانه خونړۍ جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسول شي.

د دې تر څنګ اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونو هم د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کړې ده. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر تېره ورځ په ټوېټ پیغامونو کې ویلي وو چې د ښکېلو لورو په نښتو کې ملکي مرګ ژوبله اوج ته رسېدلې او وضعیت د منلو نه دی. د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي هم په یوه اعلامیه کې د تاوتریخوالي د کمولو او دایمي اوربند د رامنځ ته کېدو غوښتنه کړې ده.

# د واشنګټن او تهران د کړکېچ په دوام؛

## متحده ایالتونو د ایران پر دفاع وزارت او ځینو نورو ادارو نوي بندیزونه لګولي دي



امریکا د ایران پر دفاع وزارت او ځینو نورو ادارو تازه بندیزونه لګولي دي. د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو دا بندیزونه په واشنګټن کې اعلان کړي دي. د راپورونو له مخې، دا بندیزونه د ایران د دفاع وزارت او هغو ادارو پر وړاندې اعلان لګول شوي چې د تهران د اټومي وسلو له پروګرام سره تړاو لري. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو، دفاع وزیر مارک ایسپر او خزانې وزیر سټیفن منوچین په دې اړه په واشنګټن کې خبري کنفرانس ته معلومات ورکړي او پامپیو ویلي چې د تهران تر څنګ د وینزویلا پر ولسمشر هم بندیزونه لګول شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د وینزویلا ولسمشر په دې وروستیو کې د پلازمېنې کاراکاس او تهران تر منځ اړیکې پراخې کړې دي. مایک پامپیو ویلي: «به زه د ولسمشر د نوي امر له مخې د ایران پر دفاع وزارت او دفاعي صنعتي ادارو او رییس یې د بندیزونو اقدام وکړم، موږ همداراز د وینزویلا پر پخواني ولسمشر نیکولاس مادورو بندیزونه لګوو، نړدې دوه کاله کېږي چې په تهران کې په اداري فساد ککړو چارواکو د وینزویلا له غیر قانوني رژیم سره په همکارۍ د ملګرو ملتونو د وسلو له بندیزونو سرغړونه کړې ده، زموږ بندیزونه باید په نړۍ کې د یوه خبرداري په توګه واورېدل شي، که تاسو هر څوک یاست، که پر وسلو د ملګرو ملتونو له بندیزونو سرغړونه وکړئ، له بندیزونو سره به مخ شئ». په ورته وخت کې د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر هم ویلي چې امریکا پر تهران د وسلو او مهماتو تر لاسه کولو په خاطر فشارونو راوستلو ته ژمنه ده. هغه زیاته کړې: «موږ چمتو یو چې د ایران هر ډول تېري ته غبرګون وښیو او موږ پر ایران د فشار راوستلو په خاطر د امریکایي اداري اقداماتو ته ژمن یو.» په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف ویلي چې د امریکا بندیزونه پر ایران د پام وړ اغېز نشي کولای. هغه زیاته کړې: «امریکا پر ایران خپل ټول فشارونه راوستل. امریکا هیله درلوده چې دا بندیزونه به زموږ نفوس پر ګونډو کړي، خو دا کار ونه شو، دوی له همدې کبله له ایران سره د نړۍ د قدرتونو له اټومي تړونه ووتل.» بلخوا د امریکا د خزانې وزیر سټیفن منوچین ویلي چې دا نوي بندیزونه به د ایران اټومي اداره او له دې پروګرام سره تړاو لرونکي اشخاص هم اغېزمن کړي. امریکا خبرداری ورکړی چې ایران ته له هر هېواده د وسلو او مهماتو لېږد به له بندیزونو سره مخامخ شي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دې وروستیو کې نوی اجرایوي فرمان لاسلیک کړ چې له مخې یې تهران ته د وسلو او مهماتو پر پلورونکو بندیونه لګېږي. ټرمپ په یوه اعلامیه کې ویلي چې دا د امریکا پالیسي ده چې په منځني ختیځ کې د ایران د نفوذ مخه ونیسي.

## د کتــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري
## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### درېیم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




څنګه چې وړاندې وویل شول افغانستان له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان څخه برېښنا اخلي، خو دیادې وارداتي برېښنا اندازه کمه ده له همدې امله افغانستان د برېښنا په برخه کې د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره باید له خپلو سیندونو استفاده وکړي او د برېښنا د تولید بندونه جوړ کړي. افغانستان د دې ظرفیت لري چې برېښنا ګاونډیو هېوادونو ته هم صادره کړي. د دې ترڅنګ کاسا ۱۰۰۰ پروژه چې په وسیله به یې د افغانستان له لارې له مرکزي اسیا څخه پاکستان ته برېښنا انتقال شي یوه مهمه سیمه‌ییزه پروژه ګڼل کېږي .افغانستان او د مرکزي اسیا هېوادونه د برېښنا او انرژۍ د تولید ډېر ظرفیت لري او د جنوبي اسیا هېوادونه په ځانګړې توګه هند او پاکستان انرژۍ ته سخته اړتیا لري، نو له همدې امله باید له مرکزي اسیا څخه جنوبي اسیا ته د برېښنا دلېږد لاینونو ته پراختیا ورکول شي افغانستان له مرکزي اسیا جنوبي اسیا ته د برېښنا دلېږد یوه اسانه او ارزانه لار ګڼل کېږي او کېدای شي افغانستان له مرکزي اسیا جنوبي اسیا ته د برېښنا دلېږد په یوې مهمې لارې بدل شي .

**۲ـ د امنیت په برخه کې همکاري**

د سیمه‌ییزې همکارۍ پر وړاندې ستر خنډ په افغانستان کې روانه ناامني ، جګړه او په سیمه کې شته بې ثباتي ده په افغانستان کې دجګړې او ناامنې د دوام له امله د مرکزي اسیا ځینې هېوادونه له افغانستان سره د نږدې اړیکو له رامنځ ته کولو څخه ډډه کوي، هغوی وېره لري چې توند لارې ډلې به د هغوی کورنی امنیت خراب کړي .له بل لوري د سارک سازمان غړو هېوادونو په پولو کې د امنیت خوندیتوب او د جرایمو په اړه د معلوماتو شریکولو په برخه کې د همکارۍ تړون لاسلیک کړی دی . په سرحدي سیمو کې د امنیت د ټینګښت په موخه د هڅو دوام او له سیمه‌ییزو سازمانونو سره لکه د ایکو او شانګهای له غړو هېوادونو سره د همکاریو پراختیا د افغانستان لپاره ډېره مهمه ګڼل کېږي . د افغانستان حکومت د سیمې د سترو هېوادونو او نړیوالې ټولنې له مرستې او همکارۍ پرته په خپله خاوره او سیمه کې امن او ثبات نه شي راوستلای له همدې امله د سیمې هېوادونه کولای شي په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه په امنیتي برخه کې سیمه‌ییزو همکاریو ته پراختیا ورکړي .

**۳ـ د نشه یي توکو پرضد همکاري**

د نشه یي توکو کښت او قاچاق د توندلارو ډلو لپاره د عوایدو یوه ستره سرچینه ګڼل کېږي او له امنیتي مسایلو او وضعیت سره نږدې تړاو لري تریاک د افغانستان په ناامنو سیمو کې کرل کېږي، ډېر کروندګر د زیاتو عوایدو ترلاسه کولو، فقر، غریبۍ او بیکارۍ له امله د تریاکو په کښت کې مصروف دي . د قانون کمزورۍ حاکمیت هم د تریاکو د کښت یو مهم او اساسي دلیل ګڼل کېږي. د افغانستان حکومت د نشه یي توکو د کښت او قاچاق د مخنیوي لپاره یو لړ اقدامات ترسره کړي، خو په سرحدي سیمو کې د ناامنیو شتون او په سمه توګه د پولو نه کنټرول د دې سبب شوی چې د نشه یي توکو قاچاق دوام پیدا کړي، د سیمې ټول هېوادونه د نشه یي توکو د کښت او قاچاق په اړه اندېښنې لري، د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي لپاره د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ پراختیا ډېره مهمه ګڼل کېږي .

**۴ـ له سیمه‌ییز اقتصاد سره د افغانستان وصل کول**

اقتصادي نږدې والی به په سیمه کې د سوداګریزو توکو او د خلکو د لېږد رالېږد لپاره زمینه برابره کړي . افغان کارګر به وکولای شي سیمه‌ییزو مارکیټونو کې دندې پیدا کړي او لوړ معاشونه به ترلاسه کړي .له بهر څخه افغانستان ته د افغان کارګرانو له لوري د پیسو استول د افغانستان اقتصادي ودې لپاره ډېر مهم ګڼل کېږي په ۲۰۰۹ زکال کې په اسلام اباد کې د افغانستان په تړاو د ریکا په غونډه کې پردې ټینګار وشو چې له بهر څخه افغانستان ته د پیسو د لېږد په برخه کې باید د افغانستان له مرکزي بانک سره مرسته وشي .


اوسمهال هغه افغان کارګر چې په ایران او پاکستان کې میشت دي له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي ، له بل لوري ډېر افغان کارګران مسلکي کارګران نه دي، افغانستان بیا په خپله د مسلکي کارګرانو په برخه کې د سیمې د هېوادونو کارګرانو ته اړتیا لري، خو په سیمه کې د کارګرانو په اړه د یو تړون شتون ته اړتیا لیدل کېږي افغانستان کولای شي د سیمې له هېوادونو څخه د افغان مسلکي کارګرانو د روزلو په برخه کې مرسته او همکاري وغواړي ،مسلکي افغان کارګران کولای شي چې د افغانستان په اقتصادي وده او پرمختګ کې مهم رول ترسره کړي .

**۵ـ د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې همکاري**

افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته شوی، خو سره له دې اوس هم د سیمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ پر وړاندې ډېرې ستونزې موجودې دي چې له امله یې له اقتصادي پلوه افغانستان ته زیات زیان رسېږي . د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د ازادې سوداګرۍ تړون لاسلیک کېدل د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره مهم ګڼل کېږي .په افغانستان کې د بهرنۍ او په ځانګړې توګه د سیمه‌ییزې پانګونې لپاره ډېر فرصتونه شته د سیمې د هېوادونو له لوري په افغانستان کې پانګونه به د افغانستان په ګډون د ټولې سیمې له اقتصادي او ټولنیزې ودې او د یو سیمه‌ییز مارکیټ جوړېدو لپاره زمینه برابره کړي. د افغانستان وچه میوه چې ډېره برخه یې پاکستان او هند ته صادرېږي .که د پروسس په برخه کې یې اصلاحات رامنځ ته شي او په سمه توګه بسته بندي او پروسس شي نو د سیمې نورو هېوادونو کې هم ښه مارکېټ پیدا کولای شي، اوسمهال پاکستان، ایران، هند، چین، او د مرکزي اسیا هېوادونه د افغانستان مهم سوداګریز شریکان ګڼل کېږي، خو د سیمې له ټولو هېوادونو سره په سوداګریزو اړیکو کې بیلانس منفي او د افغانستان په زیان دی . **دوام لري...**

# د نړیوالو کیسو کیسې

اکسوس کتابپلورنځی




د نړیوالو کیسو کیسې، کتاب خپله کیسه لري. د کتاب لیکوال وایي، تل مې بهرنۍ کیسې لوستې وې، خو نه مې یې ژباړې ته زړه ښه کړی و او نه مې پر دې د څه لیکلو فکر کړی و. د کیسو کیسې مې یوازې پر پښتو کیسو لیکل وو. کلونه پخوا مې چې کله د کیسو کیسې په لړۍ کې یوڅه ولیکل او خپاره مې کړل، یادېږي مې چې خلکو ترې زیات خوند اخیستی و. یا حد اقل نیوکې مې پرې ونه لیدې، هغه لړۍ مې پسې اوږده کړه او د ۲۰۱۹ م کال په ډسمبر کې مې د کیسو کیسې کتاب چاپ شو.

لیکوال وایي، د دې کتاب د لیکلو هڅه مې د کرونا وبا د رامنځ ته کېدو پر مهال په کور کې د کار کولو او دفتر ته د نه تلو په وخت وکړه. زه به د کرونا وبا له منځ ته راتګ مخکې هره ورځ دفتر ته تلم، چې په دې ډول به مې تګ راتګ درې ساعته وخت نیوه. له دې وخته په استفادې مې د همینګوی او ځینو نورو لیکوالانو کیسې را وژباړلې او لیکنه مې پرې وکړه. له پیله دا کار په دې نیت و چې له وخته به استفاده کوم او ساعت به پرې تېروم. ما دا وخت ډېرې نړیوالې کیسې ولوستې، په هغو کې مې چې کومه خوښه شوه، ومې ژباړه. د کیسو د انتخاب پر وخت مې هڅه وکړه چې د بېلابېلو تخنیکونو، بڼو او سبک کیسې را واخلم. دا کیسې ډېرې د نولسمې او شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي وې. د دې کیسو ډېر لیکوالان مړه شوي وو، په ژوندیو کې ډېرې داسې مېرمنې وې چې عمرونه یې خورا ډېر وو. دوه نسبتاً ځوانان وو، په هغو پسې شوم چې وې یې موموم. خبرې ورسره وکړم، هم د ژباړې اجازه ترې واخلم او هم دا وګورم چې دوی کیسې ته له کومې زاویې کتلې دي. دا کار مې د کیسو کیسې کتاب کې کړی و، دا کتاب لوستونکو ته نوی و، خوند یې ورکړی و، خو د بهرنیو لیکوالانو له نظره پښتانه لوستونکي شاید مخامخ دغسې نه وي خبر شوي. عموما د بهرنیو لیکوالانو نظرونه په نورو ژبو ژباړل شوي او بیا ژباړل شوې بڼې یې په پښتو ځینو لیکوالانو را اخیستې دي. ما غوښتل له دوی سره پر هغو کیسو خبرې وکړم، چې ما را ژباړلې وې.

د دغو کیسو د انتخاب په وخت مې د کیسو د لیکلو طرز او سبک ته پام کړی دی. د لیکوالانو هیوادونو ته مې دقت کړی دی. نه مې غوښتل چې د یوې سیمې یا یو هیواد ډېرې بېلګې را واخلم، په داسې حال کې چې په نړیوالو ادبیاتو کې روسي او امریکایي ادبیات ډېر غني دي، خو ما هڅه وکړه چې د نړۍ له لر او بر کیسې ولرم.

په ټوله کې مو دا کتاب د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو له داستان سره اشنا کوي، تاسې ته ښیي چې هغوی په ژوند کې کوم اړخونه مهم نیولي او له کومو هغو یې متنفر دي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ترک عادت قضاوت نادرست | گابریل برن اشتاین/مهدی قراچه داغی | ۱۵۰؋ |
| ۲ | د ځنګله بوډۍ | اناهیتا روهي | ۵۰؋ |
| ۳ | زلمی | عبدالکریم بکار/هدایت الله همیم | ۸۰؋ |
| ٤ | شین مرغه | موریس مترلینک/آرین جلالزی | ۱۰۰؋ |
| ٥ | د پیسو اقتصاد | ذاکرالله ذکي | ۲۰۰؋ |
| ٦ | کاروباري مدیریت | ذاکرالله ذکي | ۱۸۰؋ |
| ۷ | نړیوال اقتصاد | حمدالله نظامي | ۳۰۰؋ |
| ۸ | رهنمای مدیریت و پلانگذاری پروژه | عبدالبصیر طیب علم | ۲۰۰؋ |
| ۹ | د اقتصادي پرمختیا سیاستونه | ذاکرالله ذکي | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | د افغانستان اقتصاد | سیدقیاس سیدي | ۱٤۰؋ |
| ۱۱ | محمدموسی شفیق له مدرسې تر صدارته | فاطمه گیلانی/لطف الله لطف | ٦۰؋ |
| ۱۲ | ایده های خلاقانه فروش بیمه | حمید امامی | ۲۳۰؋ |
| ۱۳ | صبح های جادویی مولتی میلیونرها | هال الرود، دیوید اوسبرن/فریبا جعفری نمینی | ۲٦۰؋ |
| ۱٤ | ز بان اشاره کودکان و نوزادان | دایان رایان/افسانه مقدم | ۲۳۰؋ |
| ۱٥ | اشتباه مهلک مدیران و طریقه اجتناب از آن‌ها ۱۳ | دابلیو استیون بران/لعیا موسائی | ۳۰۰؋ |
| ۱٦ | ترن هوایی کار آفرینی | دارن هاردی/لیلا عیسی نیا | ۲۳۰؋ |
| ۱۷ | مقبوضه‌افغانستان | قدرت الله سائل | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | د بریا زینه | سربلند سیال | ۷۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه | محمد ابراهیم عطایي | ۲۷۰؋ |
| ۲۰ | د مصارفو سنجش | حمدالله نظامي | ۳۰۰؋ |
| ۲۱ | مبانی علم اقتصاد | محمدنعیم عظیمی | ۳۰۰؋ |
| ۲۲ | عقود معین | نظام الدین عبدالله | ٤۰۰؋ |
| ۲۳ | حقوق میراث | نظام الدین عبدالله | ۲۱۰؋ |
| ۲٤ | د پښتو ادبیاتو په وده کې د رسنیو ونډه | غلام سخي همت | ۱۵۰؋ |
| ۲۵ | سبک پیژندنه | هوسا یوسفزۍ نوري | ۲۳۰؋ |
| ۲٦ | د لیکوالۍ اصول | گل رحمن رحماني | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | فزیک اتوم و هسته | عبدالرشید عزیز | ۳۰۰؋ |
| ۲۸ | الجبر خطی | محمد انور غوری، محمدخان حیدری | ۲۸۰؋ |
| ۲۹ | ریاضی عمومی | محمد انور غوری | ۳۷۰؋ |
| ۳۰ | د نړیوالو کیسو کیسې | ایمل پسرلی | ۱۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۰ |
| € | ۹۸,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# د خطر منلو وړتیا

ژباړه: امان الله «حنیفي»

هیڅ نه شی کولای چې د وړتیاوو لوړولو په اړه کتاب ولیکی او په هغه کې د خطر منلو له موضوع استفاده ونه کړی. تي ایس الیوت وایي: «یوازې هغه کسان چې کولای شي خطر ومني او تر ډیرو لرې ځایونو لاړ شي، پوهیږي چې د انسان تر کومه ځایه مخکې تګ په وس پوره دی.» تاسې تر کومه ځایه مخکې تلل غواړی؟ ایا چمتو یاست چې خپل محدودیتونه مو وسنجوی؟

ټول انسانان ذاتاً داسې نه دي چې خطر منل پر ځان قبول کړي، خو باید ووایم چې زه ډیر په اسانۍ سره کولای شم پر ځان خطر ومنم او تر هغه ځایه مخکې لاړ شم چې په وس مې پوره ده او غواړم تر هغه هم نویو ځایونو ته ورسیږم. اوس چې تقریباً اویا کلن یم په ژوند مکې د خطر منلو تر ټولو په لوړه سطحه کې قرار لرم. ډیری کسان راته وایي چې لیونی شوی یې! کله کله خو زه هم دا خبره ورسره ومنم.

**په کومو شیزونو باید پوه شی څو مو د خطر منلو وړتیا پیاوړې کړی؟**

ممکن همدا اوس له یوې خطر منونکې ننګونې سره مخ یاست او یا هم په هغه پروژه کې د کار کولو فرصت درته برابر وي، چې زیات خطر لري او یا هم ممکن ستاسې د زړه غوښتنه د یوه لوی کار تر سره کول وي؛ خو تاسې داسې فکر وکړئ چې ستاسې پر ټاکل شوي مسیر مو یوه لویه مانع ستاسې پر وړاندې ولاړه ده. که همداسې وي، پوهیږم چې تاسې به څنګه احساس لری، ځکه دا احساس او حالت ما خپله تجربه کړی دی.

ممکن تاسې هغه کس یاست چې ټول عمر له خطر منلو تښتېدلي یاست او اوس پوه شوي یاست چې دې کار تاسې څومره پس پاتې کړي یی. په هر حال، مهمه نه ده چې تاسې په کوم وضعیت کې قرار لری، دا مقاله به له تاسې سره مرسته وکړي، چې له خطرونو سره د مخ کېدو پر مهال سم تصمیم ونیسی.

۱ـ واقعیت: په هغو وختونو کې چې تاسې د ریسک منلو په حال کې یاست، واقعیت ستاسې تر ټولو ښه دوست دی. ماکس دي پري وایي: «د یو رهبر لومړی مسوولیت د واقعیت په ډاګه کول دي.» دا حقیقت د هغو کسانو په حق کې هم صدق کوي، چې غواړي لوی خطر ومني؛ ځکه چې لوی خطر منل بیا هغه وخت نه شي کولای او نه هم باید داسې وکړي چې ځان د پوچو او کوچنیو افکار ښکار او یا ور پورې وتړي؛ ځکه دا افکار د خطر منلو زغم نه لري. تاسې باید دا درک کړئ چې تاسې دقیقاً له څه سره مخ یاستی. ښه ده چې د هغه د بدو پایلو په اړه هم فکر وکړئ او اصلي واقعیت ووینئ.




ممکن زه د ډیرو کسانو په پرتله زیات د لوی خطر منلو ته چمتو وم، ځکه مې عمر او تجربې ته په کتو د ژوند اخرو ته رسېدلی یم. سټیو جابز وایي: «دا نصیحت په یاد راوړل چې یوه ورځ به له دنیا ځو، د ټولو هغو شیزونو په اړه له فکر او اندېښنې د خلاصون لاره ده، چې پوهیږو هغه ټول له لاسه ورکوو. تاسې مخکې له مخکې خلع سلاح شوي یاست. پس هیڅ داسې توجه نشته چې تاسې د دې لنډ او محدود ژوند په دوران کې د خپل زړه غږ وا نه وری او د هغه په خوښه د یوڅه تر سره نه کړی.» هره لحظه دا امکان شته چې موږ ته مرګ را ورسیږي، هیڅوک په دې دنیا کې تر اخره نه پاتې کیږي. همدا دلیل دی چې د خپل ځان او ټولو هغو کسانو په اړه چې زه ورسره پیژنم، د احسان او نیکۍ پوروړی یم. څو هره لحظه په سم ډول ژوند کولو او د هغوی د باور وړ کس جوړ شم. دا له واقعیت سره مخ کېدل او په هر وضعیت کې د خطر منلو مانا ورکوي.

کله چې یو خطر ارزوی، واقعیتونه څنګه وینی؟ په دې اړه له ځان لاندې پوښتنې وکړئ:

- بل کوم کس دا کار سر ته رسولی شي ؟
- تر کومه حده کېدای شي حالت بد شي ؟
- تر کومه حده کېدای شي دا حالت ښه مخکې لاړ شي؟
- ایا تېروتنه به وشي؟
- ایا د هغه کار د سرته رسولو لپاره کاپي لېوالتیالرم؟
- ایا پر ځان باور لرم؟
- ایا پر خپله ډله یا ګروپ باور لرم؟

څومره چې له ځانه ډیرې پوښتنې وکړی او هغه ته ښه ځوابونه ورکړی، هومره د خطر منلو د ارزونې او دا چې ایا دا خطر منل پر ځای دي او که نه، ښه چمتووالی نیول کیږي.

**۲ـ دا باید زده کړئ چې له خپلې محدودې امن ساحې بیرون کولای شی د ارامۍ احساس وکړی**

ډیر کم داسې پیښیږي چې خطر منل به له ځان سره ارامي ولري او دا یوه اړتیا ده چې د هغه لپاره باید له خپلې محدودې امن ساحې راووځو. دا هماغه ځای دی کله چې تاسې لوی خطر منی، باید په هغه کې ژوند هم وکړئ. زه څو ځلې له داسې حالتونو سره مخ شوی یم چې د لوی خطر په منلو سره مې د ویرې او یو ډول اندېښنې احساس کاوه. خو پوهیږم چې د هغه لارې پیدا کولو ته اړتیا لرم چې خپله ویره او ډار پرې لرې کولای شم او بالاخره مې همدا کار وهم کړ.

دې لارې چارې مې ویره او ډار پاک له منځه یو نه وړل، خو دومره شوم چې خپله ویره مې پرې کنټرول کړه او ومې شوای کولای چې خطر ومنم. هغه لارې چارې دا دي:

۱ـ پېژندنه: زه څوک یاستم؟ زه هغه څوک یاستم چې د پرله پسې هڅې او کار سرته رسولو وړتیا لرم.

۲ـ اقدام: کوم کار به سرته رسوم؟ اقدام وکړئ او د احساساتو په نظر کې نه نیولو سره هغه څه تر سره کړئ، چې سم دي.

۳ـ احساسات: څنګه به پرمختګ وکړم؟ د خپل اقدام په واسطه به خپلو احساساتو ته نوی رنګ ورکوم. خو زما موندنه څه ده؟ هر ځل مې چې په جرئت سره عمل کړی او پر ځای د دې چې احساساتو ته مې د دخالت اجازه ورکړم، هغه کار مې سر ته رسولی چې سم و او ارادې مې پر ویرې غلبه کړې ده. دې ویرو زما لمن هیڅ وخت نه ده پرې ایښې، خو دا یې هم نور نه دي کړي چې زما کنټرول په لاس کې واخلي.

غیر مسلکي کس پر دې باوري وي چې لومړی باید ویره له منځه یوسي، څو بیا وشي کولای چې کار تر سره کړي. خو مسلکي کسان بیا پوهیږي چې هیڅ وخت نه شي کولای چې کاملاً پر خپله ویره برلاسي شي. فرس فیلر

زه د فرس فیلر خبره منم او وایم، دا چې موږ نه شو کولای کاملاً پر ویره برلاسي شو، باید له هغه سره د چارچلند ډول زده کړو. زه دې چارچلند ته له امن ساحې بیرون د ارامۍ احساس کول وایم.

له خطر سره د مخ کېدو او پر هغه د برلاسۍ لپاره باید خپل احساسات او شکونه کنټرول کړو. زه په بېلابېلو موقعیتونو کې د پرله پسې بریا تر لاسه کولو چې لوی خطر منلو ته اړتیا لري، کوښښ کوم چې له خپلې محدودې امن ساحې بیرون د ارامۍ احساس وکړم. څنګه دا کار کوم؟

- په هنداره کې نه ګورم، څو داسې احساس ونه کړم چې ظاهراً ښه نه مالومیږم.
- ماتې مې نه شمېرم، د هغه پر ځای له هغه اخیستل شوي درسونه شمېرم.
- کم مې پر ویرو او ډیر مې پر موخو تمرکز کوم.

**۳ـ ښه رهبري له ځان سره د بریالي کېدو هومره ډیر چانس لري**

زه وایم، هرڅه د رهبرۍ په واسطه مخکې ځي او شا ته پاتې کیږي. د دې جملې د الفاظو تر شا اصلي هدف د خطر منل دي. رهبر هم باید د خطر منلو ځانګړنه ولري، که غواړی چې یو سخت څه تجربه کړی، باید یا یو ښه رهبر و اوسئ او یا هم یو ښه همکار پیدا کړئ. هره لویه هڅه له ښې رهبرۍ پرته له ماتې سره مخ ده.

## ارین: د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۳۵۰۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

کورنیو چارو وزارت وایي، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د وسله والو طالبانو په بریدونو کې ۳۵۰۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د یاد وزارت ویاند طارق ارین تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل چې د یادو کسانو له ډلې څخه ۱۲۰۷ تنه وژل شوي او ۲۲۹۳ نور ټپیان شوي دي. نوموړي زیاته کړې چې په قربانیانو کې ښځې، ماشومان، د پاخه عمر نارینه او ځوانان شامل دي.

هغه ویلي، په داسې حال کې چې افغان امنیتي ځواکونه د سولې تر هوکړې وروسته په دفاعي حالت کې وو، طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې اوو زره ریدونه کړي دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند زیاته کړې چې یاد ملکي وګړي تر ډېره د سړک غاړې په ماینونو کې مړه او ټپیان شوي چې په وینا یې، طالبانو په دغه موده کې ۱۱۴۰ ماینونو ته چاودنې ورکړې دي.



هغه ویلي: «افغان امنیتي ځواکونو په فعاله توګه د افغانانو او خاورې دفاع کړې ده، د وسله والو طالبانو شاوخوا ۱۳۰۰ ماینونه چې د تروریستي فعالیتونو په هدف ځای پر ځای شوي و هم خنثی کړي دي.»

خو د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد له ازادي راډیو سره په خبرو کې د کورنیو چارو وزارت دغه ادعا رد کړې او ویلي یې دي چې طالبانو خپل پوځي عملیات کم کړي او دا حکومت دی چې د هېواد په څو ولایتونو کې یې د طالبانو پر ضد عملیات پیل کړي او د ملکي تلفاتو لامل د حکومت هوایي بمباري دي، نه طالبان. د طالبانو لخوا ملکیانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو دا راپور داسې مهال خپرېږي چې د تېرې اونۍ د شنبې په ورځ په دوحه کې بین الافغاني خبرې پرانیستل شوې.

په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ورمه ورځ ویلي وو چې د سولې خبرو تر پیلېدو وروسته تاوتریخوالی زیات شوی چې په وینا یې، د اندېښنې وړ دی.

د ملکي مرګ ژوبلې مخنیوي لپاره یوناما، اروپایي ټولنې، بشري حقونو او د کاناډا سفارت هم ورمه ورځ د سولې نړیوالې ورځې په مناسبت په افغانستان د تاوتریخوالي پر کمېدو او اوربند ټینګار وکړ. دوی پر ښکېلو اړخونو د تاوتریخوالي کمولو غږ وکړ، تر څو د سولې له رامنځته شوي فرصت څخه ګټه واخیستل شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې دویمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۳مه | ۵۹۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۲۵ | ۳٤ | ۲۷ | ۳۵ | ۳۱ |
| ۱۰ | ۹ | ۱۷ | ۱۳ | ۲۰ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۹ | لمر ختل ۰۵:٤۱ | ماسپښین ۱۱:٤۷ | مازیگر ۰۳:۱٤ | ماښام ۰۵:۵۱ | ماخوستن ۰۷:۱٤

## طالبان: معاونان رئیس جمهور با اظهاراتی اخیرش در برابر نظام آینده افغانستان «عقده‌گشایی» می‌کنند



در حالی که گفت‌وگوهای گروه تماس دولت افغانستان و طالبان در قطر روی نهایی‌سازی اصول مذاکرات ادامه دارد، دولتمردان افغان و گروه طالبان، عملکرد یکدیگر را به شدت مورد انتقاد قرار داده‌اند.

امرالله صالح معاون اول رئیس جمهوری گفته که گروه طالبان در دوره حاکمیت خود شماری از مردم را شکنجه و سنگسار کرد و بدون قانون از مردم عشر و ذکات گرفت.

آقای صالح روز دوشنبه در همایشی به مناسبت روز جهانی صلح گفت که گروه طالبان در دوره حاکمیت خود جایگاه افغانستان را در سطح جهان پائین آورد و حتی هزاران دختر را به نکاح اجباری درآورد: «ده‌ها هزار دختر جوان افغانستان در دوره طالب برخلاف میل خود و خانواده‌اش به نکاح اجباری در آمدند. اما در افغانستان فرهنگ سپر است و اجازه نمی‌دهد که این قصه‌ها علنی شود. اگر ما فرهنگ متفاوتی می‌داشتیم، مسئله نکاح اجباری در دوره طالبان در تمام گوشه‌های افغانستان بدعتی بود که در تاریخ کشور ما نظیر نداشت.»

آقای صالح همچنین گفت که گروه طالبان در دوره حاکمیت خود فرهنگ‌ستیزی کرد و بجای فرهنگ چند هزارساله افغانستان، در تلاش زنده کردن فرهنگ به گفته او، مولانا فضل‌الرحمان و مولانا سمیع‌الحق، دو روحانی پاکستانی، بود.

در این همایش همچنین سرور دانش معاون دوم رئیس جمهوری افغانستان ضمن برخی انتقادهای دیگر از گروه طالبان، گفت که براساس گزارش‌هایی از قطر، این گروه به نحوی گفته که با اهل تشیع مانند اقلیت‌های دینی در چهارچوب شریعت اسلامی برخورد شود.

آقای دانش گفت که چنین اظهارات مغایر احکام مذهب امام ابو حنیفه و همچنین اهانت به بخش بزرگی از مردم افغانستان است: «این نوع برخورد به نظر من نخست مخالف است با اندیشه و مکتب امام ابو حنیفه و همچنین مغایر است با حقوق اساسی و دینی ما. همچنین این اظهارات یک نوع توهین به بخش بزرگی از مردم افغانستان است.»

اما گروه طالبان اظهارات معاونان رئیس جمهوری را به عنوان مانع‌تراشی در برابر روند جاری صلح دانسته است.

ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی این گروه با پخش اعلامیه‌ای گفته است که معاونان رئیس جمهوری این کشور با چنین اظهاراتی در برابر نظام آینده افغانستان «عقده‌گشایی» می‌کنند.

نړۍ



د واشنگټن او تهران د کړکیچ په دوام؛

## متحده ایالتونو د ایران پر دفاع وزارت او ځینو نورو ادارو نوي بندیزونه لګولي دي

۳

## اعلان داوطلبی

| ه | جنس | مقدار | مارکه | صنعت | قیمت في کیلو | قیمت مجموعی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آرد خوب سفید | ۱۱،٦ تُن | خوراکه | قزاقستانی | | |
| ۲ | سیله درمیانه | ۵،۸ تُن | درمیانه | هندی | | |
| 3 | روغن مومن | ۳،٤۸ تُن | مؤمن + عزیز | إماراتی | | |
| 4 | بوره میده سفید | ۳،٤۸ تُن | میده | إندونيزيايي | | |
| 5 | لوبیا | ۳،٤۸ تُن | سرخ | ترکمنی | | |
| ٦ | قیمت تهیه و توزیع و بارگيري و رساندن آن به اماكن توزيع (ولايت پروان) | | | | | |
| ۷ | قیمت تیارکردن فی کارتن، کارتن با چاپ شعار دفتر علیه هر کارتن | | | | | |
| ۸ | قیمت مجموعی يك كارتن با درنظرداشت همه مصارف فوق الذكر و تادیه مالیه | | | | | |

سازمان (MWL) می خواهد از طریق شرکت ها ومؤسسات ذیربط که با ارگان های ذیربط دولتی ثبت و راجستر باشد جواز فعالیت آن مدار اعتبار وتصدیق تصفیه حسابات مالی خود را از وزارت مالیه در دست داشته باشد، مواد فوق الذکر را خریداری نماید بناءً شرکت‌ها ومؤسساتیکه دارای مواصفات فوق باشند، میتوانند در داوطلبي شرکت کنند وشرطنامه را از این دفتر اخذ ونرخ خود را إلى تاريخ ۲٦ / ۰۹ / ۲۰۲۰م از طریق ادرسهای ذیل به این دفتر تقدیم نمایند، تادیه مالیه به وزارت مالیه از پروژه فوق الذکر به دوش شرکت برنده می باشد، ضم فوتوکاپی جواز همرای نرخ لازمی است ( اماکن توزیع- در ولایت پروان مطابق هدایت مسؤولین آن ولایت).

آدرس: شش درك خانه (۷) نزديك دفتر سابق دی ايج ايل سرك عمومي دفتر سازمان مذكور

ایمیل : iiro_kabul_4u@hotmail.com

تلیفون 0093791220232 پوست بکس (ص – ب – 3181 وزارت مخابرات كابل افغانستان)

د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لنډمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمیرې1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515

